International Journal of Human and Society (IJHS)

| P-ISSN: 2710-4966 | E-ISSN: 2710-4958 |
|---|---|
| Vol. 5. No. 01 (Jan-Mar) 2025 | Page 130-143 |


# د شېرین زاده خدوخېل د افسانوي مجموعې "میتریا" یوه تحقیقي جائزه


| | |
|---|---|
| Said Ibrar Ali Shah | Ph.D Scholar, Department of Pashto University of Malakand. Email : Sibrar146@gmail.com |
| Noor Ul Bassar Aman | Assistant Professor Department of Pashto University of Malakand. Email: dr.aman@uom.edu.pk |


**Abstract:** *Shereen Zada Khodokhel is from the renowned village of Ghorghashto in Buner. His scholarly and literary endeavors shine brightly like the moon. He is a distinguished researcher, historian, biographer, novelist, and short story writer. In this regard, he has published numerous fictional and non-fictional books in both Pashto and Urdu. He remains tireless in his efforts and continues to actively contribute to academic and literary work. The genre of short stories in Pashto literature has a history of more than a century. Over the years, numerous authors have penned remarkable stories on diverse themes. However, Shereen zada Khado Khel's short story collection, *Mitria*, holds a unique place. What sets this book apart is that all of its stories are rooted in authentic historical events related to the life of the beloved Prophet Muhammad (PBUH). The collection was published in 1998, and in Pashto literature, there is no precedent for a fictional work of this kind—nor has there been one since. The purpose of this review is to introduce *Mitria* to literature enthusiasts, as it may inspire readers to explore the life of the Prophet Muhammad (PBUH) and encourage future writers to use their creativity in similar fictional narratives.*

**Keywords:** Pakistan,

"که رڼا ده پیروي د محمد ده
ګڼه نشته په جهان بله رڼا"

د حضور پاک (ص) د مبارک ژوند سره تړلي حالات، واقعات او د هغه (ص) د ماشوم والي نه واخله تر اخري سلګو پورې د ژوند ټول کړۀ وړۀ سیرت نګاري ده . په سیرت پاک (ص) باندې په بلها ژبو کښې د نظم ونثر ګڼ شمېر ډېر د لوړې پائې کتابونه لیکلے شوي دي . دا سلسله د صدو نه تر دې دمه راروانه ده . اوس وخت هم ډېر ښۀ ښۀ لیکونکي د خوږ نبي حضرت محمد(ص) سره د خپلې مینې اظهار د قلم په ژبه کوي، د خپلې مینې د عقیدت پېرزوئنې ښکاره کوي او انشاءاللہ دا لړۍ به ترقیامته دوامداره وي . په دې حقله رحمت اللّٰه قاسمي د اردو کتاب "مختصر سیرت نبوی" په عرضِ ناشر کښې لیکي:

"کسی مستشرق نے خوب کہا ہے کہ رسول اللہﷺ کے سیرت نگاروں کی قطار اگر چہ بہت طویل ہے، مگر اس میں جگہ پانا خوش نصیبی ہے ۔ اور یہ ایک حقیقت ہے کہ مذہبی اور غیر مذہبی شخصیات میں سے کسی کی سیرت، حالانکہ زندگی اور تعلیمات وخدمات پر اتنا نہیں لکھا گیا جتنا کہ رسولﷺ کی خدمات پر۔ بلکہ اگر یہ کہا جائے کہ رسولﷺ کے بالمقابل دسواں حصہ بھی نہیں لکھا گیا تو یہ مبالغہ نہ ہوگا اور کیوں نہ ہو، جب کہ اللہ تعالیٰ کا ارشاد ہے "ورفعنا لکه ذکرک"[i]

په دغه بختورو کسانو کښې یوه نامه د شېرین زاده خدوخېل ده، چې په سیرت پاک نبوي(ص) ئې یو شمېر کتابونه لیکلي دي. شېرین زاده خدوخېل د فرورئ میاشت په دویمه نېټه کال ۱۹۶۵ء کښې د بونېر په مشهور کلي غورعشتو کښې د اروابښاد پیرزاده کره سترګې غړولې دي. ملازمت ئې د جونیئر کلرک د څوکئ نه شروع کړے دے ، او په ۳۰ جون ۲۰۲۴ء کښې ئې د طوطالئ هائیرسیکنډري سکول نه د پرنسپل په حېث د وخت نه یو کال مخکښې ریټائرمنټ اخستے دے .

شېرین زاده یو علم دوسته او ادب ذوقه انسان دے . ښهٔ تکړه مؤرخ او محقق دے . د افسانوي ادب سره ډېره نزدې علاقه لري ، ناول او افسانه دواړه لیکي خو د خوښې او مېټ د لاندې صنف ئې افسانه ده. خو د دې هر څهٔ سره د لیکونکي مذهبي اړخ ډېر د داد وړ دے او بیا په خصوصي توګه د سرور عالم (ص) د ښکلي سیرت پاک سره د زړهٔ مینه، د خوږ نبي حضرت محمد(ص) سره بې حده مینه لري . د سیرت نبوي (ص) مطالعه ئې د خپل ژوند برخه ګرځولې ده او د دغې مینې لوږه تنده ئې په کتابونو کښې په نظر راځي . په دې اړه ئې شپږ کتابونه چاپ شوي دي چې پنځه په اردو ژبه کښې دي او یو د افسانو کتاب ئې "میټریا" دے . په دې اړه راسره طاهر بونېري د شېرین زاده د کتابونو په حقله د واټس ایپ د لارې معلومات څه داسې شریک کړي:

""رسول اکرمﷺ کا دسترخوان، "رسول اکرم او رعلم حیوانات"، "عہد نبویﷺ میں شعر وادب"، "بعثت نبویﷺ پر مذاہب عالم کی گواہی"، "عہد رسالت کا نظام تعلیم اور عصرِ حاضر" او یوه افسانوي مجموعه "مېټیریا" ده ."[ii]

د شېرین زاده تر دې دمه پنځه افسانوي مجموعې د اشاعت د مرحلو نه تېرې شوې دي . څلور د پښتو: "مېټیریا"، "خالي لاسونه"، "د پښتو لار" او "شل مخونه" او یوه افسانوي مجموعه د اردو ژبې "دفعه ۱۸۲" چاپ ده. زمونږ څېړنیز کار د کتاب "مېټیریا" سره دے چې ټول په ټوله افسانې ئې د خوږ پېغمبر حضرت محمد(ص) د ژوند سره تړلي رښتیني واقعات دي . دې کتاب ته دا برکتي مقام حاصل دے چې په وړومبي ځل

ئې داسې واقعات د افسانې په چوکاټ کښې بنلي او په کتابي شکل کښې راټول شوي دي . ډاکټر محمد زبير حسرت په خپل کتاب "نقش" کښې په دې بابله ليکي:

" زما په خيال شبرين زاده خدوخېل پښتو کښې وړومبے ليکونکے دے چې په دا قسمه حقيقي تاريخي واقعاتو ئې قلم پورته کړے دے، هغهٔ مطالعه کړې ده، تحقيق ئې کړے دے او بيا ئې دغې مطالعې او تحقيق له تخليقي رنګ ورکړے دے"[iii]

دا کتاب په پښتو ادب کښې يو نوے او وړومبے ګام دے، چې د نورو ليکونکو دپاره د رڼا زېرے دے . په دغه تناظر کښې ډاکټر محمد دين هم د دې کتاب په سريزه کښې دا خبره په ډاګه کړې ده:

" زما د معلوماتو مطابق د "ميترپا" مصنف په خپل مخصوص اندازکښې په پښتو ژبه کښې د سيرت (ص) په ميدان کښې د يو نوي باب اضافه او د يو نوي باب کروندې ته د ليکوالانو توجو راګرځولو يو کامياب کوشش کړے دے او اديبانو ته ئې د سيرت او اسلامي تاريخ د ابلاغ دپاره د نوو لارو کوځو نشاندهي کړې ده"[iv]

دا رښتيني او تاريخي افسانې د پيغمبر پاک (ص) د ژوند مبارک ښائسته او د عبرت نه ډکې وړې لوئې پېښې دي چې په افسانوي بڼه د لوستونکيو په وړاندې لکه د يو قېمتي ښار پئېلې شوې دي، دا زيار د پښتو ادب مئينانو دپاره تل عمري يوه روښانه ځلېدونکې هڅه ده او د وخت سره سره به د افسانې په اسمان خپله ځلا او پړقا نوره نوره برڅېره کوي .

د فکري اړخ سره سره دا افسانې په فني لحاظ هم ډېرې د داد او ستائيلو وړ دي . د کتاب هره افسانه داسې ده چې په بار بار لوستو ئې د قاري تنده نهٔ مړېږي . د ليک انداز بيان ئې ساده، روان او د روزمرې مطابق دے او ټول افسانوي خواږهٔ په کښې بياموندے شي .

"د افسانې کلهم فني لوازمات (ابتداء، وسط، انجام، سسپنس، مکالمې، کردارونه او ماحول پوره کوي) او په دې بنياد ښاغلے خدوخېل د ډېر داد تحسين لائق دے . چې خپل منفرد اسلوب کښې ئې د اظهار ساده او ښکلې پېرايه اختيار کړې ده او د خپلې مدعا اظهار ئې کړے دے او دا سبب دے چې په ابلاغ کښې ئې لوستونکے تېر نهٔ خوري"[v]

هم دغه وجه ده چې د افسانه نګار د افسانو فني جوړښت کوټلے او سپېڅلے دے او يو لوستونکے بغېر د څهٔ مبالغې ډېر ډاډه دا حقيقت تسليموي چې د افسانه ليکونکي په دې اړه مټ ښهٔ توله او د افسانوي هنر کمال ئې خپل بام ته رسېدلے دے . بيا هم دا يوه ادبي فن پاره ده، نو

څۀ فني لوازمات داسې دي چې د تنقيد ګنجائش لري، چې دغه باب به د فني اجزاؤ د جاج لاندې چېړل کيږي .

قيصه د انسان د تعليم او تربيت يوه موثره لاره ده . ځکه چې د قيصې اورېدلو شوق د هر انسان د وړوکوالي نه وي . په پښتون قام کښې خو دغه ذوق د پخوا نه ډېر زيات دے، ځکه چې دلته په پښتونخوا کښې خو يو روغ بازار د قيصه خوانۍ په نوم په پېښور کښې اباد دے . دا رواج اوس هم لا ژوندے دے، مشران اکثر په حجره کښې ناستو همځولو او زلمو ته د تېر وخت واقعات بيانوي . په کورونو کښې مشرانې زنانه خپلو ماشومانو ته په بېلابېلو موضوعاتو قيصې بيانوي . دغه رنګ په قرآن او حديثو کښې هم رښتيني واقعات خوندي پراته دي، چې يو قسم له د اسلامي او تاريخي پوهې په بابله مستند اسباب دي . د کتاب "ميټريا" په سريزه کښې ډاکټر محمد دين په کلام الهي او حديث نبوي کښې د قيصه ګويۍ واضحه څرک ډېر په ښۀ لفظونو کښې ستائيلے دے .

"د نبي کريم (ص) په احاديثو او کلام کښې هم د قرآن پاک دغه اعجاز ښکاره او نمايان دے . د قيصو په ذريعه په جاذب انداز کښې زړونو ته خبره کوزول د هغوي د فصاحت يوه داسې اهمه څانګه ده چې په دې مختصره ديباچه کښې د هغې د تفصيل او مثالونو بيانولو ګنجائش هم راته نۀ ښکاري او د کلام نبوت د قارئينو نه څۀ پټه خبره هم نۀ ده"[vii]

د "ميټريا" کتاب ټولې افسانې په تاريخي موادو اډانه لري . دا مونږ ته معلومه ده چې تاريخي پېښو ته افسانوي شکل ورکول اسان کار نۀ دے . دلته يو وچ کلک تاريخ ته افسانوي وزرې (پلاټ، کردارنګاري، منظرنګاري، سسپنس، مکالمه نګاري، اغاز، انجام وغېره) ورکول وي . داسې سانچه سازؤل ډېر محنت غواړي . خو دا خبره لکه د رڼا ورځې روښانه ده چې د شېرين زاده د خپل اسلامي تاريخ سره څومره مينه ده او په تېره تېره بيا د ليکوال د سيرت پاک (ص) ژوره مشاهده او کوټلې مطالعه خو د جنون تر حده ده او په دې موضوع ئې يو شمېر کتابونه چاپ دي .

د دې کتاب "ميټريا" هنري زاوئې ته که وکتلے شي نو درې رنګه خوندونه پکښې محسوسيږي . د تخليق، تنقيد او تحقيق درېواړو ښۀ امېزش په يو وخت څرګندوي او په لوست سره ئې په يوغشي دوه نۀ بلکې درې ښکاره کېدے شي . دا افسانې د ليکوال خپل تخليق دے او يو تخليقي او بيا ادبي فن پارو ته خو د تنقيد تېره غشي هر وخت په چچه وي . اصل کښې دا افسانې د اصل واقعاتو يو لنډيز وړاندې کوي، نو په دې حقله د لوستونکيو د سيرت پاک (ص) سره د لوست مينه پېدا کوي . دغه تنده

ئې لا زیاتوي او اصل موضوع ته ئې کش کوي . دغه رنګ د یو قاري په زړهٔ کښې د نور تحقیق تخم نالوي او د نورې مطالعې حِس ئې راپاروي . ځکه خو زهٔ د سعید ګوهر د دې جملې سره اتفاق کووم چې د دې افسانوي مجموعې په پیش لفظ کښې درج کړې .

"د دې کتاب په تالیف کښې د تخلیق، تنقید او تحقیق درې سره ذائقې موجودې دي"[vii]

راځو اوس نبغ په نبغه افسانوي مجموعې "میتریا" ته چې ټول په ټوله یوولس افسانې لري . دلته د دغې افسانو یو په یو لنډه فکري جائزه اخلو.

میتریا:

وړومبۍ افسانه "میتریا" ده، د کومې په وجه چې دې کتاب ته هم "میتریا" نامه ورکړے شوې ده . "میتریا" د سنسکرت ژبې لفظ دے معنیٰ ئې ده رحم دل، محبت والا، شفقت والا او د مستقبل پیغمبر. [viii] په دې افسانه کښې ټول واقعات د مهاتما ګوتم بده (سدهارتهه) د ژوند سره تړلي بیان شوي . د ګوتم بده اخري سلګۍ وي او د ځنکدن علامات پرې ښکاره شوې وي . بلها ګڼ شمېر بهکشوان ورته راټول شوي وي . ډېر سخت خفګان وي، ټول پیروکار ئې د اوښکو په ځاے وینې څڅوي د ګوتم بده حالات ډېر خراب وي، ډېر په ګرانه په تته تته ژبه خپلو بهکشوانو ته د صبر، برداشت او زغم درس ورکوي . په دغه نازک وخت کښې ئې خپل مرید خاص "ننده" په ژړغوني لهجه کښې وائي . ستاسو نه پس به څوک د مخلوق په غم کښې شپه ورځ ژاړي؟ څوک به د ټول عالم دپاره دعاګانې غواړي؟ او څوک به ستاسو نه وروستو د عالم انسانیت د رهنمایۍ دپاره یو رښتونے بدها راشي؟ سدهارتهہ ورته دمه په دمه څهٔ داسې تسلي ورکوي:

" ننده! په زمکه زهٔ وړومبے بدھ نهٔ یمه او نهٔ اخري یمه، زما نه پس به په خپل وخت یو بل بدھ راځي . . . . . . .

هغوي . . . به . . . . . د . . . میتریا . . . په . . . نوم . . . یادیږي . . د مهاتما د خولې نه څهٔ په ګرانه اواز راغلو. . . . . "میتریا" . . . . رحمت عالم (ص) . . . . او بیا د هغه ساه ډوبه شوه"[ix]

دیدن:

دویمه افسانه "دیدن" ده چې په خپله لمنه کښې دوه قسمه پیښې رانغاړي . چې د یوې تعلق د الله د کور خانه کعبې سره دے او د بلې تعلق د الله د رسول حضرت محمد (ص) سره دے . ابرهه دین ته د بېوپار په نظر ګوري . د خانه کعبې د تجارتي حېثیت د ختمولو په غرض وړومبے د یمن په ښار "صنعا" کښې خپله خانه کعبه "القلس" جوړه کړي . بیا هم د ناکامۍ په

وجه نېغ په نېغه په بيت الله د حملې کولو ناکامه کوشش وکړي . هر څو که ئې مشر راهب پادري شموئيل منع کوي خو اپوته هغهٔ زنداني کړي . د ابرهه لښکر ټول تباه برباد شي . د دې عبرتناکې پېښې په صداقت قرآن مجيد ګواه دے، بلکې د ابرها دغه تکبر او غرور تر قيامته پورې د ټول انسانيت دپاره يو تريخ مثال دے . دغه رښتونې تاريخي پېښه د قرآن شريف په اخري سيپاره سوره فيل کښې درج ده .[x]

په دې افسانه کښې د پادري شموئيل دوه پېش ګويۍ رښتيا شي، يو طرف ته ابرهه سره د خپل لښکر تباه شي نو بل پلو د خوږ پېغمبر حضرت محمد (ص) پيدائش هم د مکې مکرمې په خاوره وۀ شي . مولانا سلطان محمود صلاح په خپل ترجمه کړي کتاب "سپېڅلے نبوي سيرت" کښې د ابرها د حملې او د رسول الله (ص) د زېږون نېټې په يو کال ظاهروي . ښاغلے مولانا څۀ داسې ليکي:

> "سيدالمرسلين حضرت محمد(ص) د بني هاشم په شعب (مينه) کښې، د دوشنبې په سهار چې د فيل د پېښې د لومړني کال ربيع الاول نهمه نېټه وه . دنيا ته سترګې وغړولې، دا تاريخ د (۵۷۱ء) کال د اپرېل د مياشتې له شلمې او يا دوي ويشتمې نېټې سره سمون خوري"[xi]

لوے امانت:

د دې افسانې مرکزي کردار حضرت زيد بن حارث (رض) دے، دا هغه يواځېنے صحابي دے چې ذکر ئې په قرآن مجيد کښې راغلے دے . د دغه قرآني آيت څۀ برخه داسې ده:

"فلما قضیٰ زيد منها وطراً" (سوره الاحزاب، ايت ۳۷)

ترجمه: پس هر کله چې حضرت زېد (رض) د هغې (حضرت زېنب رض) نه خپل ضرورت پوره کړو .

هر کله چې د بنو قضاعه خاندان يوه وړه قافله د سفر په غرض د خپلو ټاټوبو نه راووتل او د صحرا په لور روان شول . په لار کښې ډاکوانو پرې حمله وکړه، حمله کوونکېو ځان سره د قافلې نه څۀ ماشومان بوتلل او په تېښته لاړل . په دغه ماشومانو کښې يو د حارث بن شراخېل او سعدي بنت ثعلبه ډېر نازولے زوے زېد هم وۀ . سعدي بنت ثعلبه د خپل ماشوم په جدايۍ ډېره غمژنه وي . د ډېرو سوچونو او خفګان نه ئې وجود ورځ تر ورځه بې دمه او کمزورے کېږي . پلار او ترۀ ئې ډېره موده ورپسې لولپه ګرځي، خو د هغه (رض) هيڅ څۀ درک نۀ لګي . اخر څۀ کسان ورته د مکې درک ورکړي چې ستاسو ماشوم په مکه مکرمه کښې د يو قرېشي سره دے . په دې خبر اورېدو سره سمدستي حارث بن شراخيل او د دۀ ورور مکې ته د پېغمبر پاک (ص) استانې ته ځان ورسوي . زېد(رض) د پلار او ترۀ مخې ته راوستلے شي . خوږ

پېغمبر (ص) ورله اجازت ورکړي او بغېر د څۀ معاوضې ئې خپل پلار حارث ته حواله کړي . خو زېد (رض) چې کومه مینه او خوارۀ د حضور پاک (ص) سره په استوګنه کښې لیدلي وو هغه هغۀ چرته پرېښودل، پلار ترۀ ئې ورته ډېر اصرار وکړو خو هغه په مکه مکرمه کښې پاتې شو او دوي خالي لاسونه واپس راغلل . د دې رښتینې واقعې نه د پېغمبر پاک (ص) د اعلئ سیرت اندازه لګي چې یو بې اسرې او غلام ماشوم پسې خپل حقیقي مور او پلار پرېږدي .

حارث بن شراخېل چې یمن ته راستون شي نو ډېر په فخریه انداز خپلې قبیلې ته په دې لفظونو سره وائي چې ما زېد پرېښودو:

"څکه چې هغه اوس زېد بن حارث نۀ بلکې زېد بن محمد (ص) دے، یو ازاد خپلواکه انسان، کوم چې څۀ موده پس به د مکې په سردارانو کښې شمېرلے شي . د بنو قضاعه خلقو ما د خپل زوے د سر نه د سردارۍ پټکے څنګه کوز کړے وے"[xiii]

د حضرت زېد(رض) سره د پېغمبر(ص) ډېره مینه وه بلکې د دۀ د زوي اسامه بن زید (رض) سره ئې د خپلو نمسو حسن (رض) او حسېن (رض) په شان مینه لرله . د حضرت زیدبن حارث(رض) شهادت د حضرت محمد (ص) په ژوندانۀ مبارک د جنګ موته په مقام وشو. حضورِ پاک (ص) په دې خبر ډېر ودرډېدو . لېوني دي لېوني:

دا افسانه د ضماد بن ثعلبه اذري د کردار نه تاوېږي، کوم چې د یمن بلکې د ټول عرب یو مشهور او پوهه حکیم وۀ . بل ژوندے کردار په کښې د بنت جمیل دے څوک چې یوه ښائسته ښکلې پېغله ده او په ټوله مکه کښې ئې د حسن ثاني نشته . په افسانه کښې رومانوي رنګ په چپو دے . هر خوا ته د بنت جمیل د ښائست وږمې خورې دي او ډېر مجنونان ئې د یو نظر دیدن لېوني او ارماني دي . بل طرف ته د ضماد د حکیمی خو هم هډو سیال نشته . ټول عرب وربانديې لکه د ماشو مېږو ورمات وي . افسانه هغه وخت د نقطه عروج بام ته ورسېږي، چې بنت جمیل ضماد بن ثعلبه د خپل لاثاني حسن په جال کښې راګېر کړي . د شرط په توګه ورته ټاسک کېږدي، چې د محمد(ص) نومې ځوان غم راله وکړه . څۀ سِحر، جادو یا دم وغېره هر څۀ چې وي خو چې زما طلبګار شي . بیا که ته څۀ غواړې زۀ تیاره یمه . سره د دې چې د مکې عربو ضماد د محمد (ص) د ملاقات نه منع کړے وۀ، خو د بنت جمیل حسن ته ټینګ نۀ شو او نېغ د خوږ پېغمبر(ص) دربار ته حاضر شو . خو بیا هلته د دۀ دم درود او منترې د هیڅ کار پاتې نۀ شوې . دغه وخت دے په خپله د پېغمبرپاک(ص) د روحاني او اسماني تجلیاتو په وړاندې اریان دریان ګوته په خلۀ پاتې شو او بې اختیاره ئې ووئیل :

"اے محمد رسول الله(ص)! لاس رامخکښې کړه، چې ښکل ئې کړم، د مکې دا ټول خلق لېوني دي چې ستاسو په دعوت نۀ رسي"[xiii]

مجرمان:

په دې افسانه کښې د هجرت حبشه (ایتهوپیا) یوه تاریخي او رښتینې واقعه په یوه ډرامائي اندازکښې راټوله شوې. قرېش مکه چې په مسلمانانو ظلمونه د حد نه سېوا کړل نو د پېغمبر پاک(ص) په حکم صحابه کرامو حبشې ته هجرت وکړو چې خواوشا درې اتیا (۸۳) کسان چې په کښې زنانه او ماشومان هم شامل وو په هجرت هم د کفار مکه زړۀ یخ نۀ شو او په دې لا غصه او خفه وو چې مسلمانان داسې ډلې ډلې ځان محفوظ ځاے ته رسوي. هسې نۀ چې یو مضبوط قوت ترې جوړ شي، په مونږ دوباره یرغل وکړي او غالب شي. په دغه وجه ئې دوه بلیغ او فصیح کسان عمرو بن العاص او عبدالله بن ربیعه سره د ډېرو تحفو او ډالو حبشې ته د شاه نجاشي دربارته د درخواست په غرض ولېږل. د شاه نجاشي سره د دوي د ورومبی وینا دغه منظرپه کتاب "سپېځلے نبوي سیرت" کښې څۀ داسې بیان شوے دے.

"اے باچا! ستا وطن ته داسې څو کم عقله ځوانان راغلي دي، چې د خپل قوم دین ئې پرېښودے دے او ستا دین ئې هم نۀ دے منلے، د ځان لپاره ئې یو نوے دین غوره کړے دے. دا داسې یو دین دے چې نۀ ئې مونږ پېژنو او نۀ تاسو، نو اوس د هغوي پلارانو، ترونو، خپلوانو او د قوم مشرانو مونږ تاته رالېږلي یو چې هغوي بېرته ور واستوئ"[xiv]

شاه نجاشي یو هوښیار او عادل بادشاه وۀ. یو اړخیزه فیصله ئې ونۀ کړه، د مسلمانانو ډلې ته ئې د خپلې جوابي صفایۍ حکم وکړو. حضرت جعفر طیار (رض) د مسلمانانو په وکالت کښې داسې پر اثر او پر جوش دلیلونه وړاندې کړل چې په ټول دربار خاموشي خوره شوه او هر کله چې د سوره مریم څو ایتونه بیان کړل نو د ټولو راهبانو د سترګو نه اوښکې څڅېدې او د نجاشي ټوله ږیره په اوښکو لمدۀ شوه.

نوې رڼا:

دا افسانه د "دارالندوه" په سازشي جرګه راجوړه شوې، دې جرګې له د مکې لوے لوے سرداران راغلي وو. دوي غوښتل چې په وخت د نبي کریم (ص) بندوبست وکړے شي. د دوي په زړونو کښې دا وېره وه چې د دۀ (ص) ډله ورو ورو مضبوطېږي او د یوې لوئې خطرې سبب جوړېدے شي. په دې جرګه کښې ډېرې خبرې مخې ته راغلې. چا وئیل قتل، چا وئیل زنداني او چا وئیل چې جلاوطن دې کړے شي. اخر د عمرو بن هشام (ابوجهل) په رائې د ټولو اتفاق راغے. پرېکړه داسې اوشوه چې د مکې د هر ټبر نه به یو یو ځوان د ټولګي په شکل د شپې په تیارۀ کښې

په محمد (ص) حمله وکړي . نعوذباالله د پېغمبرپاک (ص) د ژوند قیصه به تمام کړي . بنو مناف به د ټولې مکې مقابله وه نهٔ کړے شي او د ناچارۍ نه به خون بها ته غاړه کیږدي . په افسانه کښې د جرګې د پرېکړې منظر څهٔ داسې راغلے دے

"هغوي ټول د عمرو بن هشام د ذهانت معترف وو . هغهٔ تل ډېرې ښې او صائبې مشورې ورکړې وې، خو نن چې هغهٔ کومه مشوره ورکړه، د هغې جواب نهٔ وو . هغوي ټولو سترګو سترګو کښې عمرو بن هشام له داد ورکولو"[xv]

د فیصلې عین مطابق د مکې دولسو تکړه او با حوصله ځوانانو په تکه توره شپه د پېغمبر پاک(ص) د استانې ګېره واخسته . خو الله تعالیٰ ته نور څهٔ منظور وو په کفارو خوب راغے . نبي کریم (ص) په خپل بستر حضرت علي(رض) پرېښودو او په خپله د ابوبکر صدیق(رض) په ملګرتیا د هجرت مدینه په لور روان شول . ځوانانو ټوله شپه هسې په بې خبرۍ کښې تېره کړه او دغه شان د دارالندوه سازش ناکامه د خاورو لاندې شو .

جنګ به جاري وي:

په دې افسانه کښې د جنګ بدر رښتوني واقعات راجمع شوي . په اسلامي تاریخ کښې دا وړومبۍ غزوه ده چې د مسلمانانو او کفارِ مکه په مېنځ کښې شوې . مسلمانان د حضرت محمد (ص) په مشرۍ کښې او بل طرف ته مشرکین د ابوجهل په نګرانۍ کښې د بدر په تاریخي مقام یو بل ته مخامخ شول . د دې واقعې څو معلوماتي خبرې په کتاب "اسان سیرت نبي (ص)" کښې داسې بیان شوې دي .

"بدر کے مقام پر دونوں فوجیں آمنے سامنے ہوگئیں۔ مسلمانوں کی تعداد 313 تھی۔ کافروں کی تعداد 950 تھی۔ رسول اللہ ﷺ نے صحابہ سے مشورہ کیا کہ لڑنا چاہیئے یا واپس ہوجانا چاہیئے؟ مہاجرین میں حضرت ابوبکر رض وحضرت عمر رض نے اور انصار میں سے حضرت سعد بن معاذ رض اور حضرت مقداد بن اسود نے مقابلے کی رائے دی او اپنی جانثاری وفداکاری کا پیش کش کیا جس پر رسول اللہﷺ خوش ہوئے"[xvi]

د دې جنګ په حقله د قرآن پاک ګڼ ایتونه په یو شمېر سورتونو کښې نازل شوي دي لکه سوره العمران ایت نمبر۱۲۳، سوره انفال ایت نمبر۶۹، سوره القمر ایت نمبر ۴۵ او داسې نور .

الله پاک مسلمانانو ته برے ورکړو، کافرو ته ډېر زیان ورسېدو، ډېر په کښې مړهٔ او بلها په کښې قېدیان شول . حسیمان بن ایاس څوک چې د مشرکینو قاصد وي د خپلې تباهۍ او بربادۍ تذکره څهٔ دا رنګې کوي .

"مونږ تباه شو، مونږ بې موره بې پلار شو زمونږ ښکلي او درانۀ د جرګو مشرانو خپل سرونه د بدر په میدان بائیلل . عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه ابوالجتري، امیه بن خلف، ابوالحکم . . . . هغۀ نور څۀ وئیل چې چغې شوې، دا لېونے شوے دے"[xvii]

بیا دې یادونه:

شېرین زاده خدوخېل په دې افسانه کښې د ام المومنین حضرت خدیجه (رض) سپېڅلے کردار زمونږ وړاندې ایښودے دے . دا ام المومنین (رض) د خوږ پیغمبر وړومبۍ ثبر وه . د وادۀ په وخت د پیغمبر پاک(ص) عمر مبارک (۲۵) کاله او د حضرت خدیجه (رض) عمر مبارک (۴۰) کاله وۀ . ام المومنین د (۶۵) کالو په عمر کښې د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې . د دواړو د ژوند شریک سفر تر (۲۵) کالو پورې وۀ . دا ام المومینین د پیغمبر (ص) نه په عمر کښې مشره وه . په دغه وجه ئې په هره سخته راحته کښې د پیغمبرپاک (ص) ډاډګیرنه کړې .

حضرت خدیجه (رض) د مکې یوه مالداره زنانه وه، د وادۀ نه پس ئې خپل ټول مال دولت په پیغمبر (ص) قربان کړو . د ژوند په هره پوړۍ ئې ورسره لوړې تندې برداشت کړې . د نبوت په وړومبۍ وخې چې په پیغمبر(ص) کوم د وېرې او سختې وخت وۀ . هغې (رض) ئې په نره حوصله افزائي او داد رسي کړې . الغرض په زنانۀ کښې دا (رض) وړومبۍ مېرمن وه چې په خوږ نبي (ص) ئې ایمان راوړے او مسلمانه شوې ده .

د جنګ بدر په موقع چې د کفارمکه ډېر خلق د مسلمانانو په قېد کښې راغلل، نو په دغه قېدیانو کښې یو "ابوالعاص" هم شامل وۀ . ابوالعاص د حضرت محمد (ص) او حضرت خدیجه(رض) زوم یعنې د حضرت زېنب (رض) خاوند وۀ . هر کله چې د قېدیانو نه فدیه طلب شوه د بدر ټولو قېدیانو خپله فدیه ورکړه . ابوالعاص سره نور څۀ نۀ وو نو د مکې نه ئې د خپلې ثبر زېنب(رض) هار راوغوښت، کوم چې په اصل کښې د حضرت خدیجه (رض) د لاس هار وۀ . دغه وخت حضرت خدیجه (رض) وفات شوې وه . د هار په لیدو یو دم پیغمبر پاک (ص) ته د حضرت خدیجه (رض) د ژوند یوه یوه لمحه رامخکښې شوه .

"ټول صحابه سترګې نم غلي ناست وو . ابوالعاص هم اوس پښېمانه او خاموشه وو . حضور (ص) د اوښکو ډکې سترګې د خپلو صحابه کرامو (رض) په لور راواړولې . که ستاسو مرضي وي نو لور ته د مور دا نخښه واپس کړئ . ټول رضا رضا وو . چاته اعتراض نۀ وۀ . هار ابوالعاص ته واپس ورکړے شو او ورته ووئیلے شو، که تاسو زېنب (رض) مدینې ته پلار له راوستله ډېره مننه به وي . ابوالعاص په اقرار کښې سر وړقولو او

مکې ته په اوښ سور په سوچونو فکرونو کښې روان شو. ولې چې د هغهٔ د زړهٔ دننه د کفر دنیا اوس ګډه وډه شوې وه"[xviii]

بدل:

په افسانه "بدل" کښې د فتح مکه واقعات ډېر په زړهٔ راښکون انداز کښې بیان شوي دي. مسلمانانو د پیغمبر مصطفیٰ (ص)په مشرئ کښې د هجرت په اتم کال په مکه مکرمه یرغل وکړو. بغېر د څهٔ جنګ جدل الله پاک ګټه د مسلمانانو په برخه کړه. د خپل پلار نیکهٔ په خاوره ئې بیا قبضه کړه. د کومې خاورې نه چې هغهٔ (ص) او ګڼو صحابه کرامو ډېر په مجبورئ مدینې منورې ته هجرت کړے وهٔ. د دې لوئې ګټې نه پس حضور پاک (ص) د عامې معافئ اعلان وکړو. په افسانه کښې د دغه خطبې څهٔ ټکړه څهٔ داسې بیان شوې ده.

"تاسو ټول ما معاف کړئ، تاسو ټلے شئ. په تاسو هیڅ قدغن نشته. په دې اورېدلو سره خلقو کښې الغاؤ تلغاؤ جوړ شو. هغوي هم د دې اورېدلو په امېد د خپلو پناه ګاهو نه راېهر شوي وو. هغوي چې خپل عزت او ناموس محفوظ او دا شان رحمت ولیدلو نو بې دامه غلامان شو"[xix]

پیغمبرپاک (ص) په دغه ورځ یو عظیم فاتح وهٔ، خو یو ځل ئې چرته په هېره هم د تکبر او غرور لاره نهٔ وه اختیار کړې. بلکې په دغه عظیمه موقع ئې انتهائي د عاجزئ او انکسارئ مظاهره کوله. هم د دغه لوړو اخلاقو په وجه د مکې ډېر خلق اسلام ته داخل شو چې په کښې ابوسفیان (رض) او د هغه ټبر "هنده" هم د دین الٰهي ملاتړ شول.

هسکه غاړه:

د افسانې "هسکه غاړه" مرکزي کردار د حضرت عبدالله ابن ابوبکر صدیق (رض) دے. د خپل پلار (رض) یو ډېر منوونکے زوے وهٔ. د هجرت مدینه په موقع ئې د سردارکائنات او خپل پلار ابوبکر صدیق (رض) د خوراک څښاک او خبرګیرئ ذمه واري ښهٔ په نره ترسره کړې وه. د دهٔ په ایمان او اسلامي جذبه کښې چاته څهٔ شک نهٔ وهٔ. خو هر کله چې د دوي (رض) د بي بي عاتکې سره نکاح وکړو نو د هغې حسن وجمال او ښائست دومره مرغوب کړو چې یو ساعت د هغې بیرته لرې کېدو ته تیار نهٔ وهٔ. سفر ته خو ئې هډو ډېرې نهٔ لګېدې، تر دې پورې چې یو ځل نیم د جهاد نه هم پاتې شوے و. حضرت ابوبکر (رض) څو څو وارې ورټلو، ډېرې ستغې سپورې ئې ورته هم ووئیلې خو په هغهٔ د خپلې مینې وریځې هغه شان بار وې. یوه ورځ ورته خپل پلار ابوبکر صدیق (رض) ډېر په حکمت سره ووئیل.

"بچیه مونږ خپل کور کلي وطن یو خاص مقصد دپاره پرېښودے دے، که مونږ هغه نظر انداز کړو نو دا به زمونږ دپاره د تباهۍ سبب وګرځي . عاتکه (رض) مهٔ طلاقوه، خو زلمي کور کښې خپلو ښځو سره د ناستې په ځاے د جهاد په میدان کښې په نرتوب جنګېدو ښهٔ ښکاري . عبدالله (رض) سر ښکته کړے لږ ساعت غلے ناست وهٔ . بیا ئې ډېر په ادب سره ووئیل . .

"باباجانه! ما او عاتکې (رض) دواړو ته د خپلې غلطۍ احساس شوے دے، وخت چې راشي مونږ به د خپلې غلطۍ کفاره ادا کړو"[xx]

حضرت عبدالله د فتح مکه په معرکه کښې برخهٔ واخسته، د دغې نه پس ئې په غزوه حنېن کښې هم مړانې وکړې. د حنېن نه وروستو د طائف په شخړه کښې په زهرجنو غشو ولګېدو . په زخمي حالاتو کښې کور ته راوړلے شو. پوره دوه کاله رنځېدو نه پس ئې د شهادت جام نوش کړو . د حضور پاک (ص) د وفات نه پس په ابوبکر صدیق (رض) دا دویمه لویه صدمه وه چې راغله . دا خفګان زیات دردونکے په دې وجه هم وهٔ ځکه چې عبدالله (رض) واړهٔ زاړهٔ هم نهٔ وو چې د زوي مینه ئې پرې ماتېدے .

د وصال شپه:

د حضور پاک (ص) دنیا نه د رحلت شپه ورځ د مسلمانانو دپاره ډېره لویه صدمه وه، ټولو صحابه کرامو (رض) د اوښکو په ځاے د زړهٔ وینې د سترګو په ناوؤ څڅولې . د سیدنا عمر فاروق (رض) په وړاندې خو چا دغه د مرګ خبره نهٔ شوه کولے . په دغه وخت حضرت ابوبکر صدیق (رض) راغے، نېغ د عائشه صدیقه په کور ننوت. په "سپېځلے نبوي سیرت" کښې دغه منظر څهٔ داسې راغلے دے:

" ابوبکر (رض) د رسول اکرم ﷺ له مبارک سر سره ودرېدو، پر هغه مبارک یمني لیکه دار څادر غوړول شوے وهٔ . څادر ئې له مبارک مخ نه پورته کړ، مبارک مخ ئې مچې (ښکل) کړ، وئې ژړل او وئې وئیل: مور او پلار مې له تا قربان، الله تعالٰی تاته دوه ځله مرګ نهٔ درکوي، کوم مرګ ئې چې درته ټاکلے وهٔ هغه درته راغے . بهر راووت، هلته عمر(رض) له خلکو سره په مناقشه بوخت وهٔ . ابوبکر (رض) ووئیل: اے عمره! کښېنه، عمر نهٔ کښېناست . خلک ټول له عمر (رض) نه ابوبکر ته راغلل، ابوبکر (رض) ووئیل اما بعد: چا چې د محمد (ص) عبادت کوو هغهٔ دې پوهه شي چې محمد (ص) وفات شو او څوک چې د الله عبادت کوي هغهٔ دې پوهه شي چې الله د محمد (ص) خداے ژوندے دے، مرګ نهٔ لري"[xxi]

د شېرين زاده خدوخېل د دې افسانې مرکزي کردار حضرت عمرو بن عبسه (رض) دے . چې يو ډېر جليل القدر صحابي دے . د پېغمبر پاک (ص) سره ئې ډېرې خاطرې يو ځاے تېرې شوې . نن شپه چې د پېغمبر پاک (ص) د رحلت د کال شپه ده، د عمرو بن عبسه (رض) په زړهٔ او ذهن کښې هغهٔ ټول زاړه منظرونه يو په يو تېرېږي . د عکاظ په مېله کښې د حضور پاک (ص) سره وړومبے ملاقات او په هغهٔ (ص) ايمان راوړل، مدينې ته په پېغمبر پاک (ص) پسې هجرت کول او په مدينه کښې د دهٔ (رض) سره د پېغمبر (ص) د مينې هغه منظر، په مختلفو غزاګانو کښې د پېغمبر (ص) سره څنګ په څنګ ودرېدل . د حجته الوداع د اخري خطبې هغه مبارکې لمحې چې ټول صحابه کرام (رض) خاموش او دم ختلي ناست وو . دغه وجه ده چې د عمرو بن عبسه (رض) په تصور او خيالونو کښې د خوږ پېغمبر (ص) څنګ په څنګ ګرځي، غوږنے پرې ځيګ ځيګ دے، يخه خوله پرې راغلې ده او په غرېو نيولي حالت کښې خپلې اوښکې بهوي . درود ، ثناء او نفلونه کوي . د افسانې اقتباس څهٔ داسې دے .

"هغوي (رض) ته د خپل اقا (ص) يوه خبره او يو يو فعل مخې مخې ته کېدلو . خو هر کله چې ورته د خپل اقا (ص) د سفر اخرت منظر راوړاندې شو، نو د هغوي (رض) زړهٔ به داسې راډک شو چې د ضبط دېوالونه به ئې رانسکور، د اوښکو سېلاب به ئې لمن سېلاب کړه . ولې چې نن دولسم ربيع الاول وهٔ . د اقا د وصال د کال شپه وه" [xxii]

شېرين زاده خدوخېل د بونېر په سيمه د پښتو افسانې په حقله يو نمائنده نوم دے . "ميتريا" د دوي د افسانو يوه داسې ټولګه ده چې په موضوعي کچ په کښې زياتره مذهبي او اسلامي واقعات ډېر په هنري ډول قلم بند شوې دي . او په دغه حواله ئې دغه افسانوي ټولګه يو منفرد مقام لري . په مذکوره افسانوي مجموعه کښې شامل افسانې د فن له مخه هم کوټلې او غښتلې دي . دا افسانې د پښتو افسانې په مذهبي او تاريخي پنګه کښې يوه ځانګړې اضافه ده . چې د شېرين زاده خدوخېل د افسانې په فن د پوره دسترس اظهار کوي .

## حواشي

[i] رحمانی، سیف الله، مختصر سیرت نبوی (ترجمه)، دارالعلوم شیخ علی متقی برہان پور، فروری 2016، ص 18

[ii] د طاهر بونېري سره د واټس اېپ د لارې مرکه، ۳۱ جولائي ۲۰۲۳*، وخت ماښام اتۀ بجې

[iii] **محمد زبېر حسرت، ډاکټر، نقش، زرپانه پرنټرز پبلشرز پېښور، ستمبر ۲۰۱۰ء، مخ** ۱۵۶

[iv] محمد دین، ډاکټر، **"میتریا"، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۹۸ء،** مخ ۱۲

[v] **محمد زبېر حسرت، ډاکټر، نقش، مخ ۱۵۶**

[vi] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۹۸ء، مخ** ۱۱

[vii] هم دغه اثر، مخ ۵

[viii] Encyclopedia.Brittanica/Maitreya.comprehensive/Article.on.Myterya 15/july/2024

[ix] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"،، مخونه** ۱۶، ۱۷، ۱۸

[x] قرآن پاک ، پاره نمبر ۳۰"سوره فیل" ۱۵

[xi] صلاح، سلطان محمود، سپېڅلے نبوي سیرت (ترجمه)،اصلاح آن لائن پانه، چاپ کال نۀ لري، مخ۷۱

[xii] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"،، مخ** ۴۱

[xiii] هم دغه اثر، مخ ۵۲

[xiv] صلاح، سلطان محمود، سپېڅلے نبوي سیرت (ترجمه)، مخ ۱۳۴

[xv] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"،** مخ ۶۶

[xvi] ندوی، مفتی سید اصف الدین، اسان سیرت النبی، انسټی ټیوټ آف عربک مہدی پټنم حیدر اباد، 2014ء، ص 101

[xvii] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"**، مخ ۸۱

[xviii] هم دغه اثر، مخ ۸۸، ۸۹

[xix] هم دغه اثر، مخ ۹۵

[xx] هم دغه اثر، مخ ۱۰۳

[xxi] صلاح، سلطان محمود، سپېڅلے نبوي سیرت (ترجمه)، مخ ۶۹۶

[xxii] **خدوخېل، شېرین زاده، "میتریا"،، مخونه** ۱۰۸، ۱۰۹